ګزارش : عثمان منصور « انصاري »

د نشر نیټه : ۱۳ می ۲۰۱۲ میلادی

بسم الله الرحمن الرحیم

# د سعودي هیواد له خوا د پوهنې وزارت سره ۵۰ ملیونو افغانیو په کچه مرسته وشوه



نن یکشنبې ورځ، ۱۳/۵/۲۰۱۲مه نیټه د پوهنې وزارت اړوندو دیني مدرسو ملاتړ لپاره په کابل کې د خادم الحرمین الشریفین سفارت لخوا د افغانستان اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت ته د یو ټرون له مخې یو شمیر دیني کتابونه او قرطاسیه باب ور وسپارل شوه.

www.said-afghani.org

په هغه غونډه کې چې د هیواد د رسنیو مرکز (د صدارت مرمرینه ماڼۍ) کې له همدې لامله جوړه شوې وه، د سعودي هیواد سفیر استاد منصور صالح الصافی، د پوهنې وزیر ډاکټر غلام فاروق وردګ، د دیني چارو معین ډاکټر شفیق صمیم او د نوموړي وزارت یو شمیر نورو سلاکاران او رییسانو هم ګډون درلود.
د پوهنې وزیر د ورور هیواد سعودي عربستان له معنوي مرستو په مننې سره د د نوموړي هیواد سفیر کارونه وستایل او په دې اړه یې د لا زیاتو مرستو هیله څرګنده کړه. وروسته د سعودي هیواد سفیر لنډه وینا وکړه او افغان مسلمان ولس ته یې د هر راز مرستو ډاډ یې ورکړ.



دا مرستې د سعودي عربستان ولیعهد، وزیرانو شورى مرستیال، کورنیو چارو وزیر او د افغان ولس لپاره د سعودي مرستندویه کومیټې ستر څارونکي ښاغلي شاهزي نایف بن عبدالعزیز د هوکړې پر بنسټ هغو دیني مدرسو ته چې د پوهنې وزارت یې سرپرستي کوي د (50) ملیونه افغانیو په ارزښت (20000) مصحفونه (قرآن کریم)، (120000) دیني درسي کتابونو او څه باندې (120000) قرطاسیه توکو (کتابچو، قلمونو)، (20000) د ښوونځي بکسونو باندې مشتمل وه، د هغو ورانديزونو پر بنسټ چې په کابل کې د خادم الحرمین الشریفین د سفارت له خوا او هغه غوښتنلیک پر بنسټ چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر له خوا شوى و، د دواړو اړخونو ترمنځ د یوې هوکړې پر بنسټ نوموړي وزارت ته ورسپارل شوه.
پاتې دې نه وي چې د وزارت له غوښتنې سره سم به د د پروژى پاتې بودیجى څخه د یو شمېر لویو دارالعلومونو لپاره کتابتونونه جوړ او په اړوندو توکو سمبال کړاى شي.

د سعودي مرستندویه کومیټې
د رسنیو مسوول
عثمان منصور« انصاري »